بسم الله الرحمن الرحيم

## اردوغان؛ یو انسان او دوې څېرې

**خبر:**

ولسمشر اردوغان د اسلامي همکاريو سازمان د پارلمانياتحاديې په شپاړسمې پرانيستغونډه کې وويل: «د فلسطين مسئله د اسلامي همکاريو سازمان مهم رکن دی. له قدس څخه دفاع له انسانيت څخه دفاع ده. پر غزه بېرحمه او بېعدالته بنديز دوام لري. موږ د غم او مرگ ترمنځ توپير نه دی کړی، موږ به دا په راتلونکي کې هم ترسره نه کړو. له مظلومينو سره مرسته، پرته له دې چې څوک دي، د ایمان له اړتیاوو څخه ده. د قدس قضيه يوازې د څو تنو زړورو مسلمانانو قضيه نه ده، بلکې دا د ټولې اسلامی نړۍ ګډه قضيه ده،»

**تبصره:**

د اردوغان خبرې له څو اړخونو څېړلی شو:

تر ټولو مخکې دا چې اردوغان په خپلو پورتنيو خبرو کې صادق نه دی. له یوې خوا، د یهودي دولت د ظلم په اړه خبرې کوي، له بلې خوا پر دې ټينګار کوي، چې یهودي دولت ته مهربانه پيغامونه استوي او د اړيکو بيا غښتلي‌کېدو غوښتنه يې کوي. په یوې تليفوني اړيکې کې چې تېره مياشت د ولسمشر اردوغان او یهودي دولت ولسمشر تر منځ ترسره شوې وه، اردوغان د ترکي-یهودي دولت اړيکې د منځنی ختيځ امنيت او ټينګښت لپاره مهمې ګڼلي وې. هغه وويل؛ له فکري توپيرونو څخه هم سترګې پټېدای شي، که چيرې دوه‌اړخيزې او سميه ييزې لانجې په مخ کې وي او دا اړينه ده چې د سولې کلتور، زغم او ګډ ژوند په سيمه کې بيا را ژوندی کړو. دغه راز ويې ويل، چې د فلسطين-یهودي دولت تر منځ د سولې اړيکو بيا له سره پيلېدل لومړیتوب دی.

د هغه څرګندونو ته په کتو، موږ د اردوغان له دوو انځورونو سره مخ کېږو. له کلونو راهيسې، اردوغان د امريکايي پاليسيو له مخې هڅه کوي، چې د مصر، عربي متحده امارات او نورو هېوادونو سره چې په مناقشه کې دي، سياسي او اقتصادي اړيکې ورغوي. له بلې خوا غواړي هغه ډيپلوماټيکې اړيکې چې ګومان کيږي د یهودي ښکيلاکګر دولت سره خړې شوې بيا ټينګې کړي، هغه چې مخکې اردوغان ورته د ماشوم وژونکي او ترهګر دولت نوم ورکړی و.

له یوې خوا، اردوغان د 2023م. د ټاکنو لپاره د یهودي دولت ظلم په اړه خبرې کوي، تر څو په ټولنه کې محبوبیت او رېښنه پیدا کړي، له بلې خوا، د یهودي ښکیلاکګر دولت ولسمشر ایزاک هرزوګ، د مسلمانانو ټولوژنکي ته په ټاکنو کې د بریا لپاره زنګ وهي او ورته مبارکي وایې.

له دې سره سره تېره میاشت هغه د یهودي دولت خوشحاله کولو لپاره هغه اسراییلي جوړه آزاده کړه، چې د اردوغان د کور انځورونه یې اخیستي وو او د جاسوسۍ په تور نیول شوې وه. وروسته د یهودي دولت ولسمشر او لومړي وزیر له اردوغان څخه په ټلیفوني اړیکه کې د تورنو کسانو خوشي کولو په اړه مننه وکړه. یو ځل بیا هڅه کیږي چې له یهودي دولت سره ډیپلوماټیکې اړیکې زیانمنې نه شي او د اړیکو ښه کېدو ته لوالتیا ډېره شوې ده، چې د همدې لپاره د ماوي مرمرا قضیه وتړل شوه او مسلمانان یوازې او بېپامه پرېښودل شول.

البته، خیانتونه همدومره نه دي. یوه لوړ پوړي ترکي چارواکي په یهودي دولت کې خپریدونکې ورځپاڼې ته ویلي چې د ترکیې دولت منلې که چیرې یهودي دولت دا ژمنه وکړي، چې خپل سفیر په ترکیه کې وټاکي موږ حاضر یو چې په تل اویو کې سفیر وټاکو. د دې لپاره چې له یهودي دولت سره اړیکې بیا پیل او خوښ کړل شي، یو بل لوی خیانت یې ترسره کړ. د سفاردیانو (د یهودانو ټولنه چې له اسرائیله بیرون ژوند کوي) ټولنې په ملي جشن کې چې د امریکا سفاردیانو ټولنې لخوا په نیویارک ښار کې تنظیم شوې وه، د سفاردیانو ټولنه او ترکي یهودان چې له عثماني امپراطورۍ او ترکیې څخه امریکا ته کډوال شوي وو، راغونډ کړل شوي وو، د ترکیې سفیر په واشنګټن کې د سفاردیانو په جشن کې ګډون کړی و او د حانوکا (د یهودانو جشن) شمعې یې د یونان او یهودي دولت له سفیرانو سره بلې کړې وې.

دا ټول موږ ته یو څه ښیي او دا حقیقت دی، چې د بندو دروازو تر شاه خیانت اوس بربنډ شو. اردوغان ناوړه سیاسي پریکړې د امریکا خوشحاله کولو او خپلې چوکۍ ساتلو لپاره وکړې. هغه لوېې حزبي خبرې کوي چې خلک یې خوښوي خو سر ته یې نشي رسولی. هغه خپله ټوله هڅه کوي، ترڅو امریکا او لویدیځ خوشحاله کړي. مګر نباید اردوغان د الله‌تعالی راضي کولو لپاره څه وکړي؟ نباید هغه د اسلامي امت ګټې د اسلامي پوځ په مټ وساتي، چې د یهودي دولت جرړې د فلسطین له سپېڅلې خاورې څخه وباسي؟

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**لیکوال: یلماز سیلیک**

**2021م، د ډسمبر 18مه**

**1443هـ.ق،جمادی الثانی 14مه**